


# د کوېډ-۱۹ وبا په هکله د جنډر پوهاوی | افغانستان

د ۲۰۲۰ کال د می میاشتې ۱۴مه نېټه

## ځلورمه ګڼه: د ښځو د مراقبت پر فشار او حق‌الزحمې پرته پر کورنیو کارونو د کوېډ-۱۹ وبا اغېزې

د جنډر اړوند تیرو پوهاویو په تعقیب[1]، د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو د دفتر لخوا دا د پوهاوي ځلورمه خپرېدونکې ګڼه ده چې په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ وبا له امله پر جنډر د اغېزو دوام تربحث لاندې نیسي. د پوهاوي په دې ګڼه کې د کوېډ-۱۹ وبا له امله پر هغو الزاماتو تمرکز کوي چې لا له وړاندې د مراقبت او اجورې پرته د کورنیو کارونو د مسوولیت پر غاړه اخیستلو له امله د هغه فشار څخه عبارت دي چې ښځې یې په افغانستان کې تجربه کوي. همداشان د پوهاوي په دې ګڼه کې د کار کولو حق، ښوونې او روزنې د حق، روغتیایي مراقبت د حق او دېته ورته نورو ډېرو حقونو په ګډون هغه لارې چارې تربحث لاندې نیول کیږي چې له مخې یې د دغو ننګوونو په برخه کې موجودې نابرابرۍ او ښځو د حقونو د تحقق نشتوالۍ په ډاګه کیږي. په دې ګڼه کې هم د تېرو ګڼو په څېر د جنډر اړوند اساسي اغېزې ارزول کیږي او همداشان په رسمي دندو کې له اوږده مزل وروسته د ښځو پر پرمختګ د ټولبند د تدابیرو د اغېزو څرنګوالۍ او کورني کارونه چې ښايي د ښځو د اقتصادي او کورني یا مراقبت اړوند خدمتونو نه مصونیت کچه د ټولو ښځو په ژوند کې لوړه کړي او هم په رسمي او غېرې رسمي دندو کې د ښځو لپاره د ټولنیزو شبکو نشتوالۍ او له اجورې پرته اقتصادي سکټورونو کې د ښځو اړوند زیانونه مطرح کیږي.

د پوهاوي په دغه ګڼه کې د ملي او نړیوالو شریکانو د پاملرنې په موخه د سپارښتنو لومړنۍ او مقدماتي ټولګه شاملیږي، ترڅو د ښځو بشري حقونو خوندیتوب او ترویج ته وده ورکړي ځکه چې دا ټول د مراقبت او حق‌الزحمې د ورکړې پرته د کورنیو کارونو په فشار پورې اړه لري. د پوهاوي په دې ګڼه کې هغه وروستۍ سپارښتنې او وړاندیزونه په پام کې نیول کیږي چې د جنډر او کوېډ-۱۹ وبا په هکله د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په راپور کې په ګوته شوې دي. همدارنګه په دغه ګڼه کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پنځه اویایمې ناستې په ترڅ کې د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له

[1]Issue I: Gender Alert on COVID 19 in Afghanistan: Ensuring a Gender Sensitive Humanitarian Response, UN Women (24 April 2020); Issue II: Gender Alert on COVID 19 in Afghanistan: Ensuring Access to Services for Survivors of Violence Against Women and Girls, UN Women (30 April 2020); Issue III: Gender Alert on COVID 19 in Afghanistan: the Impact of COVID19- on the Implementation of the Women, Peace and Security Agenda (7 May 2020).

منځه وړلو کمېټې لخوا هغه وړاندیز شوې سپارښتنې تربحث لاندې نیول کېږي چې د کوید-۱۹ وبا پرمهال په ځانګړي ډول د پام وړ ګرځېدلې دي. په افغانستان کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر د افغان دولت، ملګرو ملتونو، او ملي او نړیوالو همکارانو ملاتړ ته ژمن دی، ترڅو له سترګو پناه د ښځو هغه کارونه تأیید او ارزښت ورکړي چې د ښځو لخوا ترسره کېږي او په هکله یې د مخنیوي لپاره هغه تدابیر او غبرګونونه ترلاس لاندې ونیسي چې د حقونو پر وړاندې د ننګوونو هغه بشپړه محدوده تشخیص کړي چې په افغانستان کې د دغو مسایلو په برخه کې د ښځو د برابرۍ او مساوات مخنیوی کوي.

## شرایط او پر جنډر یې د پام وړ اغېزې

په نړیواله کچه د حق‌الزحمې یا اجوري پرته د مراقبت په کار کې د جنډر پر اساس د کارونو په وېش د توازن نشتوالی ډېر پراخ دی. مخکې له دې چې د کوید-۱۹ ناروغي د وبا بڼه خپله کړي ښځو به د نارینه وو په پرتله له اجوري پرته درې برابره کورني کارونه ترسره کول. دا په داسې حال کې ده چې د کوید-۱۹ وبا له امله ښوونځي تړل شوي او ماشومانو د مراقبت چارې هم کمې شوې دي، نو له اجوري پرته د ماشومانو د پاللو او مراقبت تقاضا او غوښتنه تر ډېره بریده د ښځو پر غاړه ده چې علت یې نه یوازې د کاري ځواک اوسنی جوړښت، بلکې ټولنیز نورمونه هم د دې کار یو له مهمو عواملو څخه ګڼل کېږي. په دې سره د ښځو وړتیا او استعداد محدودېږي، په ځانګړي ډول په هغه صورت کې چې دندې د لرې واټن څخه نشي ترسره کېدای. د لرې واټن څخه د کار کولو د امکان په صورت کې به فشار او په یوه وخت کې د څو کارونو ترسره کول د ښځو پر روغتیا او هوساینه غیرې متناسبه منفي اغېزه ولري.

په افغانستان کې د اقتصادي چارو په برخه کې د ښځو رول اړوند پوښتنې مطرح کول هغه که د حق‌الزحمې پرته مراقبت او کورنیو کارونو یا هم په رسمي یا غیرې رسمي کارونو له لارې وي یوه له ننګوونکو پوښتنو څخه ده. سره له دې هم، د «ښوونې او روزنې د فرصتونو » او «حقونو د نشتوالي» څخه وروسته، دا د اکثریت هغو افغانانو لپاره یو مهم فشار دی چې د ۲۰۱۹ کال په درجه بندۍ کې د ښځو لپاره د کاري فرصتونو نشتوالی د دوی له مهمو اندېښنو څخه ګڼل کېږو.[2] که څه هم چې په ۲۰۱۹ کال کې د ښځو او سړیو په تأیید له کوره بهر د ښځو کار کولو په مېزان کې تر یوه بریده زیاتوالی راغلی ؤ، خو د افغانانو ترمنځ د هغو ښځو په هکله لیدلوري، انګېرنې او تمې لا هم پر خپل ځای په پېچلې بڼه پاتې دي او دا تر ډېره په دوارو اقتصادي اړتیا او همدارنګه د ښځو د حقونو په برخه کې د پام وړ ملاتړ پورې تړلې دي.[3]

د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو د دفتر لخوا د وخت کارونې په برخه کې وروستۍ ترسره شوې سروې له مخې تصدیق کېږي چې ښځې په افغانستان کې له اجوري پرته د مراقبت او ډېرۍ کورني کارونه ترسره کوي. په متوسط ډول د سړیو د ۲.۳ ساعتونو په پرتله ښځو د ماشومانو پر مراقبت او پالنه، د سړیو د ۱.۳ ساعتونو په پرتله ښځو ۳.۴ ساعتونه د مراقبت په نورو کارونو، د سړیو د ۴ ساعتونو په پرتله ښځو د خوړو په چمتو کولو ۳.۶ ساعتونه، او سړیو د ۱.۶ ساعتونو په پرتله ښځو د تنظیف او پاکارۍ په کارونو ۷.۳ ساعتونه تېر کړي دي. عموماً د سړیو د ۵.۶ ساعتونو په پرتله ښځې په اوسط ډول له حق‌الزحمې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو په ترسره کولو ۱۸.۷ ساعته وخت تیروي.[4]

په افغانستان کې موجود ټولنیز او تشکیلاتي واقعیتونه نه یوازې د کار پر هغه رول او ډولونو اغېز لري چې د ښځو لخوا په خپلو کورونو کې ترسره کېږي، چې د حق‌الزحمې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو اکثریت برخه تشکیلوي، بلکې له کورونو بهر هم د دوی پر کارونو آغېز کوي. په رسمي اقتصادي فعالیتونو کې د ښځو د ګډون پر وړاندې خنډونه او له حق‌الزحمې پرته مراقبت او کورنیو کارونو کې د ښځو غیرې متناسب حضور په افغانستان کې د ښځو د بشري حقونو په هغو شرایطو پورې اړه لري چې د لا ډېر خوندیتوب او ودې په صورت کې د ښځو د اقتصادي او نجونو د ښوونې او روزنې د غښتلتیا په برخه کې د انتقالي بدلون رامنځ ته کولای شي. نوموړی هدف ښوونې او روزنې ته د پراخ لاسرسي، حق‌الزحمې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو ته په ارزښت قایلېدو او کار حق ته د پام وړ پاملرنې د لاروچارو په وسیله ترلاسه کېدای شي.

[2]Asia Foundation 2019 Survey of the Afghan People. Among the biggest problems facing women, respondents for the Asia Foundation's annual survey identified lack of educational opportunities as the biggest problem facing women (%43.2), followed by lack of rights (%34.1), lack of employment opportunities (%24.1), violence (%18.1), lack of services (%13.7), and economic concerns (%9.6).

[3]Ibid. Male approval has increased 8 percentage points (60.8 per cent in 2018 to 68.8 per cent in 2019) and female approval also rose slightly from 79.8 to 83.1 per cent. In disaggregating by income, the results also suggest that "this growing approval for women working outside the home is related to the economy as much as to women's rights."

[4]https://asiapacific.unwomen.org/en/digital-library/publications/05/2020/the-impact-of-covid-19-on-unpaid-care-and-domestic-work-in-afghanistan

په افغانستان کې د کوید-۱۹ وبا په خپرېدو سره د حق‌الزحمې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو د مسوولیتونو هغه فشار نور هم لوړ کړی دی چې ښځې یې په افغانستان کې لا له وړاندې تجربه کوي. په هر صورت، پر هغو لاسته راوړنو چې د ښځو د رسمي کاري فرصتونو، په غېرې رسمي کاري فرصتونو کې کاري خوندیتوب او کورنیو کارونو د ارزښت د تصدیق په برخه کې ترلاسه شوې دي د کوېد-۱۹ وبا د اوږدمهاله منفي اغېزو مېزان ډېر لوړ دی. یادې ذکر شوې ننګوونې د کار کولو د حق، ښوونې او روزنې د حق، د روغتیایي مراقبت د حق او داسې نورو په ګډون د موجودو نابرابریو او ښځو د بشري حقونو د تحقق د نشتوالي څرګندونه کوي. لاندې ذکر شوې کتګورۍ د نړیوالو او ملي شریکانو لپاره د جنډر اړوند هغو راتوکېدونکو اغېزو څرګندونه کوي چې باید د کوېد-۱۹ وبا پر وړاندې یې د خپلو غبرګونونو په ترڅ کې په پام کې ونیسي.

## په کورنیو کارونو، حق‌الزحمې پرته مراقبت او غېر رسمي اقتصاد کې د کارکوونکو ښځو ډېرېدونکې زیانمننه

په افغانستان کې ډېرې کارکوونکې ښځې په غېرې رسمي سکټور کې کار کوي چې نږدې درې پر څلور برخه یې په کورنیو لاسي صنایعو کې کار کوي. د حق‌الزحمې پرته هغو ناتایید شویو کورنیو کارونو سربېره چې ښځې په هغې کې د مصونیت پر هغو شبکو اتکا کوي چې د کورنۍ د غړي د رسمي کار په وسیله تأمین شوې وي یا هم د ټولنیز مصونیت پر هغه شبکه اتکه کوي چې ډېرۍ وختونه شتون نه لري یا هم د لاسرسي وړ نه وي، له همدې امله په غېرې رسمي اقتصاد کې د ښځو ونډه له حده ډېره ده. دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې د ټولنیز او عمومي مصونیت چارې ټکنۍ دي. د کار دغه زیان‌منونکې ډولونه د کوېد-۱۹[5] وبا د شرایطو په ګډون د بحران په وختونو کې د ښځو د بېوزلۍ د کچې خطر نور هم لوړوي، نو له همدې امله ښایي دوی په رسمي اقتصاد کې د هغه رسمي ټولنیز خوندیتوب په اقداماتو کې هم له پامه وغورځول شي چې مستقیماً د کارکوونکیو سره ارتباط لري.[6]

د کوید-۱۹ وبا د روانو وسلوالو جګړو او له وړاندې ضعیف روغتیايي سیستم پر وړاندې پرتې ننګوونې نورې هم ډېرې کړې دي او اوس یې آن د بنسټیزو خدمتونو ټوله ساحه تر خپل پوښښ لاندې راوستلې ده. په اوسني چاپېریال کې د غېررسمي کار له لاسه ورکول کولای شي چې د زیاتېدونکې زیان‌مننې حالات د سختې بېوزلۍ په لور سوق کړي. د اوږدې مودې لپاره د دندې د لاسه ورکولو، بیو د لوړوالي او دېته ورته نورو په څېر ټول د خبرداري هغه نښې او علایم دي چې د موجود ضعیف اقتصادي حالت په درلودو سره به اوږدمهاله او پراخې اقتصادي اغېزې ولري چې له امله به یې افغانان، په ځانګړې ډول ښځې د لا ډېرو بدو اقتصادي شرایطو سره مخامخ شي. دا واقعیت یوازې د هغو اقتصادي وړاندوینو له مخې نور هم پراخیږي چې د روانې جګړې، جنډر اړوند نابرابرۍ او اقتصاد ژغورلو او ودې ترمنځ د اړیکو څرګندونه کوي. د دغې مودې په جریان کې لازمه ده چې د اقتصاد ژغورنې د ټولو پروګرامونو په ترڅ کې پرته له دې چې رسمي کاري فرصتونو ته د ښځو لاسرسۍ په پام کې ونیول شي د بېړنۍ مرستو او اوږدمهاله اقتصادي پراختیا په ګډون د ښځو د اړتیاوو پوره کولو په موخه باید په مستقیم ډول فعالیتونه ترلاس لاندې ونیول شي.

## د دې احتمال چې د ښځو پر کاري فرصتونو اغېز کوي او رسمي اقتصاد څخه یې د «دایمي ایستلو» لامل کیږي

په افغانستان کې هم د نورو ډېرو هیوادونو په څېر په رسمي اقتصاد کې د ښځو د ګډون اړوند لاسته راوړنې ډېرې ضعیفې دي.[7] د ملي او نړیوالو شریکانو ترمنځ دا اندېښنه مطرح کیږي چې په رسمي سکټور کې په تېرو دوو لسیزو کې د ښځو د ګډون او حضور په برخه کې شوی پرمختګ به د کوید-۱۹ وبا د اقتصادي پایلو په نتیجه کې په منفي ډول اغېزمن شي. باید وویل شي چې له وړاندې موجودو اقتصادي او ټولنیزو فشارونو ترڅنګ د حق‌الزحمې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو د هغو نویو غوښتنو په ګډون چې د کوید-۱۹ وبا په خپرېدو سره نو هم زیات شوي دي کولای شي چې ښځې په دایمي ډول د رسمي اقتصادي څخه خارجې کړي.[8] په رسمي سکټورونو کې د کارکوونکو ښځو په ګډون په عمومي ډول نږدې ټولو ښځو د ښوونځیو د تړل کېدو، کور کې د پاتې کېدو او اساسي خدمتونو د لاسرسي د نشتوالي له کبله د دندو ځنډول، کورنۍ د غړیو او خپلو کورونو د مراقبت اړوند کارونو فشارونه لا له وړاندې لیدلي دي.[9] یو شمېر تمایلات د دې څرګندونه کوي چې دوی ممکن همدارنګه په غېرې متناسب ډول د معاشونو د کموالي او یا هم کارونو د لاسه ورکولو له امله اغېزمنې کړل شي. ذکر شوي تأثیرات بیا د ښځو په کاري ځواک کې ترلاسه شوي ماتېدونکې لاسته راوړنې د شاتګ د خطر سره مخامخ او د ځان او کورنیو د ملاتړ

[5]World Bank, Gender Dimensions of the COVID19- Pandemic (16 April 2020).
[6]UN Secretary-General's policy brief: The impact of COVID19- on women (9 April 2020).
[7]UN Women, Gender-Responsive Prevention and Management of the COVID19- Pandemic: From Emergency Response to Recovery & Resilience (27 March 2020).
[8]World Bank, Gender Dimensions of the COVID19- Pandemic (16 April 2020).
[9]UN Women, The First 100 Days of COVID19- in Asia and the Pacific (2020), pp. 18.

په موخه د هغوی وړتیا محدودوي. له دې جملې څخه ډېر هغه خطرونه چې باید وڅارل شي او پر وړاندې یې غبرګون وښودل شي د هغو ښځو له تجربو څخه عبارت دي چې د کار رسمي مارکېټ ته داخلې شوې دي او اوس د دندو له لاسه ورکولو، دندو ځنډولو او نورو هغو ننګوونو سره مخ دي چې د دوی کار او دندې ګواښي، په ځانګړې توګه په غیر متناسب ډول د کارکوونکو د دندو ځنډول/له دندو ایستل او د حق‌الزحمې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو د تقاضا ډېرېدل.

## د نورو ارزښتونو په نسبت له حق‌الزحمې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو د کمیت اندازه کول، تأییدول او مدغمول

د هغو ښځو ملاتړ په موخه چې د مراقبت ډېر مسوولیت پر غاړه لري یا ممکن له حق‌الزحمې پرته کورنیو کارونو کې بوختې وي باید لومړی یې کارونه تصدیق او وارزول شي. همدارنګه باید د ښوونې او روزنې د حق، کار د حق او له دې رو هاخوا نورو حقونو په ګډون د ښځو د بشري حقونو د بشپړې ساحې خوندیتوب او ترویج باوري کړي چې دا په خپل وار سره د کوېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د هر ډول غبرګون اساسي برخه جوړوي. باید وویل شي چې دولت، ملي او نړیوال پراختیایي فعالین د تېرو دوو لسیزو په اوږدو کې په افغانستان کې د ټولنیز مصونیت د شبکې د غښتلتیا او همدارنګه د ښځو د ښوونې او روزنې، کار، بنسټیزو خدمتونو او نورو حقونو د فرصتونو د ښه والي په موخه پراخې هلې ځلې کړې دي. خو بیا هم، په ۲۰۲۰ کې د افغانستان لپاره د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کمېټې د ډېرو نورو اساسي سپارښتنو ترڅنګ یادې کمېټې په «ناخالصه ملي عوایدو کې د حق‌الزحمې پرته د ښځو د کورنیو فعالیتونو» د ځرګوالي او شاملولو غوښتنه وکړه.[10] د ښځو اړوند مدني ټولنې ډېرو سازمانونو او جنډر د برابرۍ ډېرو مدافعینو ټینګار په دې ؤ چې د یو هیواد په تولیداتو کې د دغو کارونو نه محاسبه کول اصلاً د دغو کارونو بې ارزښته ګڼلو په مانا دي چې د دود له مخې د ښځو کار ګڼل کېږي. ډېر خلک اوس نوموړي کارونه د ښځو د «نه لیدو وړ» کارونو په نوم سره یادوي. د افغانستان په رسمي سکټور کې د ښځو د کاري فرصتونو زیاتیدل او په دغه دود کې د بدلون راوستل چې د حق‌الزحمې پرته مراقبت او کورني کارونه یوازې په ښځو پورې اړه لري، هغه دوه ستراتیژۍ دي چې باید هممهاله تعقیب کړای شي. د دې نورم بدلول به د ښځو د کار پر اساس د وخت اړوند پوهاوي کې اوږد مهاله پانګوونې او ولسونو سره څنګ په څنګ کار ته اړتیا ولري، ترڅو هغه لیدلورې ننګوونې چې له حق‌الزحمې یا اجورې پرته مراقبت او کورني کارونه یوازې د ښځو لپاره دي یا دا چې ښځې باید له کوره بهر کار و نه کړي.

باید وویل شي چې سره له دې هم اړونده لوبغاړي باید د کوېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د غبرګون هغه چټکې لارې چارې په پام کې ونیسي چې له مخې یې کولای شي د سړیو لخوا د لا ډېرو کورنیو کارونو او مراقبت د مسوولیتونو پر غاړه اخیستلو د ملاتړ ارتباطاتو، استازیتوب او خبرواترو په برخه کې یې ځای پر ځای کړي. همدا اوسنی وخت هم د کورنیو او کورنیو د غړیو لپاره دا فرصت رامنځ ته کوي چې د ښځو، سړیو، کورنیو او ټولنو د ګټو په موخه د مراقبت د فشار شریکولو په هکله بیاځلي فکر وکړي او په پای کې داسې یو افغانستان رامنځ ته کړي چې په هغې کې جنډر برابر او مساوي حقونه ولري.

## د کوېډ-۱۹ وبا د اقتصادي بیارغونې پروګرامونو ترڅنګ له جګړې وروسته اقتصادي بیارغونې پروګرامونو څخه د ښځو برخمنېدل باوري کول

په پای کې د ښځو او ښځو د حقونو او کارګر د مدافعینو شریکول یوازینۍ وسیله ده، ترڅو باوري کړي چې د کوېډ-۱۹ وبا د بیارغونې اقتصادي پروګرامونو د ضرورت له مخې د ښځو اړتیاوو ته ځواب وایي او دغه پروګرامونه داسې طرحه شوي دي چې د دوی لخوا ورته لاسرسی باوري کوي. ټولنیز خوندیتوب او مالي غبرګونونه هغه وخت ډېر آغېزمن وي چې په ناورین پورې تړلي د جنډر اړخونه، د هغې اوږدمهاله اغېزې، او د غبرګون اړوند احتمالي خوځښتونه په پام کې ونیول شي.[11] دا کار نه یوازې د تجربو د توپیرونو د درک، بلکې د هغو واقعیتونو د درک لپاره هم لازم بلل کیږي چې ښځې د اقتصادي بیارغونې پروګرامونو ته د لاسرسي پر مهال، د ټولنیز، کلتوري، یا پر تګراتګ د محدودیتونو له امله ورسره مخامخ کیږي، خو همدارنګه د عمر، معلولیت، ټولنیز موقف او داسې نورو په څېر د یو لړ مقطعي تجربو درک کول هم لازم ګڼل کیږي. په پورته ذکر شویو پروګرامونو کې باید د جنسیت پر اساس د ارقامو تجزیه هم ځای پر ځای کړل شي.[12] دا په ځانګړي ډول په جګړو ځپلیو هېوادونو کې صدق کوي. خو له جګړې وروسته اقتصادي بیارغونې پروګرامونه هم شایي مرتبط او هممهاله د ودې او پرمختګ په حال کې وي.

---

[10]CEDAW/C/AFG/CO/2020) 3).
[11]UN Secretary-General's policy brief: The impact of COVID19- on women (9 April 2020).
[12]Ibid.

افغانستان په ځبر په جګړو ځپلیو هېوادونو کې د اقتصادي بیارغونې د کار دواړه ډولونه حساس فرصتونه دي، ترڅو باوري کړي چې د سولې په لور د هڅو ترڅنګ په بیاځلي پانګوونه کې ښځې له برابرو ګټه اخیستونکیو څخه دي.

## سپارښتنې:

لاندې لومړنۍ سپارښتنې د ملي او نړیوالو شریکانو لپاره عمومي اړتیا منعکس کوي، ترڅو د ښځو بشري حقونو خوندیتوب او ترویج ته وده ورکړي څکه چې دا ټول د مراقبت او حق‌الزحمې د ورکړې پرته د کورنیو کارونو په فشار پورې اړه لري.

ملي او نړیوال فعالین کولای شي چې د هغو غبرګونونو په برخه کې مرسته وکړي چې د لاندې ذکر شویو اقداماتو له لارې د خپرېدونکي وبا د طرحې او غبرګون په ګډون د ښځو د اقتصادي غښتلتیا په موخه انتقالي روښونه بشپړ او مدغموي:

١. د ټولنیز خوندیتوب، پرمختګ او پلان جوړونې په تدابیرو کې د جنډر اړوند د تحلیل او تجزیې ځای پر ځای کول، ترڅو باوري کړي چې نوموړي تدابیر په رسمي اقتصاد کې له اشتراک سربېره تر هغو مېرمنو پورې هم پراخېږي چې په غیرې رسمي سکټور او حق‌الزحمې پرته مراقبت او کورنیو کارونو کې بوختې دي.

٢. باوري کړي چې د اقتصاد ژغورنې د ټولو پروګرامونو په ترڅ کې پرته له دې چې رسمي کاري فرصتونو ته د ښځو لاسرسۍ په پام کې ونیول شي د بېړنۍ مرستو او اوږدمهاله اقتصادي پراختیا په ګډون د ښځو د اړتیاوو پوره کولو په موخه باید په مستقیم ډول فعالیتونه ترلاس لاندې ونیول شي.

٣. باوري کړي چې په غیررسمي اقتصاد کې کارکوونکې ښځې د کار د قانون او ټولنیز خوندیتوب تر پوښښ لاندې دي.[13]

٤. په افغانستان کې د جنډر له پلوه د دندو له لاسه ورکولو اغېزې تحلیل او په رسمي سکټور کې پر ښځو د کوید-١٩ وبا اغېزې وارزوي، ترڅو باوري کړي چې ترلاسه شوې لاسته راوړنې خوندي او تقویه کېږي.

٥. داسې پروګرام جوړونه او څېړنه په پام کې ونیسي چې د اقتصادي ودې، سولې او ثبات سره له حق‌الزحمې پرته مراقبت او کورنیو کارونو/کارګرو د ونډې د څرنګوالي په هکله د پراخې پوهې سره مرسته وکړي، ترڅو په «ناخالص ملي عوایدو کې د حق‌الزحمې پرته د ښځو د کورنیو فعالیتونو» د کمیت یا څرنګوالي او شاملولو په لور پرمختګ وکړي.[14]

٦. د ښځو د رسمي دندو یا ګومارنو اړوند خنډونو ته د ځواب ویلو هغو اوږدمهاله روښونو په پام کې نیول چې کولای شي د مربوطه مسوولینو او شریکانو سره مرسته وکړي، ترڅو د ښځو د پراخ ګډون اړوند ستراتیژیو او پالیسیو کې پرمختګ رامنځ ته کړي.[15]

٧. د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو د دفتر د وروستۍ سروې او نورو موجودو مالوماتو پر اساس د ښځو د حق‌الزحمې پرته کورنیو کارونو ته د ارزښت ورکولو او ارزونې ته په پام سره د هېواد په کچه د کورنیو د سروېګانو د یوې برخې په توګه د وخت اړوند سروېګانو اهمیت د څرګندولو ترڅنګ د ښځو په پرمختګ پورې تړلي اضافي پالیسیو په موخه د اساس په توګه د دا ډول مالوماتو کارول.

٨. د ښځو په چارو کې د ملګرو مفتونو د دفتر د مراقبت د شریکولو (#SharetheCare) په کمپاین کې د اشتراک په ګډون د سړیو لخوا د لا ډېرو کورنیو کارونو او مراقبت د مسوولیتونو پر غاړه اخیستلو د ملاتړ په موخه د ارتباطاتو، استازیتوب او خبرواترو د پروګرامونو همغږي کول.

[13]CEDAW/C/AFG/CO/2020) 3).
[14]Ibid.
[15]Ibid.